# د لوړو زده کړو وزارت

# او

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

# ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک

کابل – افغانستان/ کال ۱۴۰۳ هـ ش، ۱۴۴۶ هـ ق

Scanned with AltaScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

## سریزه

دافغانستان اسلامي امارت دمهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت دهیواد په کچه راستنېدونکو، داخلي بېځایه شویو او په بهر کې افغان مهاجرین چې لوړې زده کړې ترسره کوي، په مختلفو برخو کې وضعیت ته د رسېدنې مسئولیت لري، چې د دوي د هوسا ژوندانه او حقوقو څخه ملاتړ اړوند بېلا بېل پروګرامونه په لاره اچوي. جوته ده چې مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په یوازې سر نشي کولای پدې هکله خپلې دندې ترسره کړي، اړتیا ده چې نورې اړوند ادارې په دې برخه کې دمهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سره مرسته وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د هېواد په کچه د ټولو تحصیلي بنسټونو د تنظیموونکې او رهبري کوونکې ادارې په توګه د لوړو زده کړو برخه کې فرصتونه برابروي او د ټولنې د اړتیاوو سره سم په بېلا بېلو رشتو کې د لوړو زده کړو خدمات وړاندې کوي، تر څو په هیواد کې د انساني ماهر او متخصص ځواک تشه ډکه او د وزارتونو او اداراتو سره په همغږۍ او همکارۍ ټولنې ته علمي او تخصصي کادرونه وروزي.

پرته له شکه، د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د لوړو زده کړو وزارت ترمنځ د همکاریو دغه هوکړه لیک د راستنېدونکو، داخلي بېځایه شویو او په بهر کې هغه افغان مهاجرین چې په لوړو زده کړو بوخت دي او د لوړو زده کړو بنسټونو علمي کادري غړو او محصلانو ته د ظرفیت د لوړولو او غوره خدمتونو په وړاندې کولو کې آسانتیاوې او چټکتیا رامنځته کوي.

په دې هوکړه لیک کې د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت په انفرادي ډول (لوړو زده کړو وزارت) او د افغانستان اسلامي امارت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په انفرادي ډول (د مهاجرینو چارو وزارت ) په نومونو او په ټولیزه توګه د اړخونو په نوم یادېږي. په داسې حال کې چې د حقوقي او شرعي تصرفاتو خاوندان دي، دغه هوکړه لیک لاسلیک کوي.



Scanned with AltaScanner

## لومړی څپرکی

## عمومیات

**لومړی ماده:**

**<u>د هوکړه لیک د عقد منظور</u>**

دغه هوکړه لیک د اړخونو د تخنیکي او انساني سرچینو څخه د ښه ګټه اخستنې په پار لاسلیک کېږي.

**دویمه ماده:**

**<u>د هوکړه لیک موخې</u>**

دغه هوکړه لیک لاندې موخې لري:

۱-داړخونو تر منځ په مستمره توګه د اړیکو تامین او تحکیم.

۲- هغه افغانانو له پاره چې بهر کې یې لوړې زده کړې نیم ګړې پاتې وي او باعزته راستنبګي، هغوی لپاره د لوړو زده کړو آسانتیاوې برابرول.

۳- راستنبدونکو او داخلي بیځایه شویو ته چې غواړي په امارتي او خصوصي لوړو زده کړو بنستونو کې خپلې لوړې زده کړې ترسره کړي اسانتیاوې برابرول.

۴.د محصلینو د مسلکي ورتیاوو او علمي مهارتونو د پراختیا او پرمختیا فرصتونه ( کارآموزی دوره او عملی کارونه) برابرول.

**دریمه ماده:**

**<u>د همکاریو ساحې</u>**

د دغه هوکړه لیک له نظره د اړخونو د همکاریو ساحې په لاندې ډول دي:

۱.د تولنې له اړتیاوو سره سم، ګډې علمي څېړنې تر سره کول.

۲.د راستنبدنوکو او داخلي بې ځایه شویو لپار دلوړو زده کړو فرصتونه برابرول.

۳.د محصلانو او علمي کادر غړو د څېړنې، کار آموزی او عملي زده کړې په پار همکاري.

۴.د کارمندانو تحصیلي سوېې او د مهارتونو د لوړوالي په موخه د اصولو په رڼا کې همکاري.



Scanned with AltaScanner

دویم څپرکی

## ګډ تو افقات او د دوارو لوروژمني

**څلورمه ماده:**

**ګډ تو افقات**

په دغه هوکړه لیک کې د لېکل شوېو مواردو دښه پلي کیدا په موخو، اړخونه توافق کوي چې:

۱. د اړخونو، مرکزي او دوېمي واحدونه ( مرکز او ولایات) د هوکړه لیک په پلي کېدو کې د اصولو سره سم چلند وکړي .

۲. د اړخونه منسوبین د هوکړه لیک په پلی کولو کې په اداره کې د حاکم تعامل او اړوند دسپلین تابع وي.

۳. د هوکړه لیک د ښه پلي کېدو په پار مشترکه نظارتي کمېته او مشترکه تطبیقي کمېته د اړخونو د ماهرینو او متخصصینو له ترکیب څخه جوړیږي. مشترکه نظارتي کمېټې ته د مرکز په کچه د اړخونو د معینانو تر مشرۍ لاندې له هر اړخه درې- درې استازي رسماً معرفي کېږي. تطبیقي کمېته په مرکز او ولایاتو کې د لوړوزده کړو د بنستونو د علمي کادر غړو او د مهاجرینو د رياستونو د استازو له ترکیب څخه جوړ بږي.

۴. مشترکه نظارتي او تطبیقي کمېټې کولای شي چې په خپله برخه کې د هوکړه لیک د څارنې او تطبیق په موخه لازم تدابیر او اقدامات ترسره کړي . د ضرورت سره سم یادې کمېټې کولای شي چې د اړخونو ذیصلاح مراجعو ته مراجعه وکړي او ستونزه حل کړي.

۵. دبهرنیو چارو وزارت په ملاتړ، د لوړو زده کړو وزارت او د مهاجرینو چارو وزارت استازو ته په کال کې دوه ځلې آسیایي هیوادونو ته چې د مهاجرینو شمېر پکښې زیات دی، رسمي سفرونه تنظیم شي.

**پنځمه ماده :**

**د اړخونو ژمني**

**(الف) د لوړو زده کړو وزارت ژمني**

۱. راستنبدونکو او داخلي بې ځایه شوېو ته د هیواد په لوړو زده کړو بنستونو کې د تقنیني اسنادو د حکمونو سره سم فرصتونه برابرول.

۲. د مهاجرینو چارو وزارت د کار کوونکو د تحصیلي سوېې لوړونې په پار د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي بنستونو په فوق لیسانس پروګرامونو کې د اصولو سره سم شمول آسانتیاوې برابرول.

۳. د مهاجرینو چارو وزارت مرکزي او دوېمي واحدونو (ولایات) ته د رشتې سره سم دلوړو زده کړو بنستونو محصلان د عملي زده کړې او کار آموزی دورې ته معرفي کول.

۴. د اړوند کمیسیون له پریکړو سره سم د مهاجرینو وزارت منسوبینو ته د رسمي بورسیو فرصتونه د تقنیني اسنادو په رڼا کې برابرول.

۵. داړوند کمیسیون په مرسته له بهرنیو تحصیلي بنستونو څخه د راستنبدونکو تحصیلي اسنادو د ارزیابی بهیر چټکه او آسانه کول.

۶. د لوړوزده کړو بنستونو اړوند سمینارونو او علمي غونډو ته د مهاجرینو چارو وزارت متخصصینو بلنه.

د دفتر ریاست
MORR

**(ب) د مهاجرینو چارو وزارت ژمنې**

۱. د مهاجرینو چارو وزارت په اړوند مرکزي او ولایتي واحدونو (خانګو) کې د لوړو زده کړو بنستونو محصلانو لپاره د عملي زده کړو او کار آموزی زمینه برابرول، ترڅو وکولی شي اړین مهارتونه ترلاسه کړي.

۲.په علمي او مسلکي برخو کې د لوړوزده کړو وزارت سره د یاد وزارت د ستراتیژیک پلان په تطبیق کیدو کې همکاری کول.

۳.د مهاجرینو چارو وزارت په خالي بستونو کې د ممتازو فارغانو درشتې، تخصص او اصولو په نظر کې نیولو سره دجذب فرصتونه برابرول؛

۴. دلوړوزده کړو تحصیلي بنستونو علمي کادر غړو او محصلانو ته د څېړنیزو فعالیتونوته د امکاناتو په حد کې آسانتیاوې او فرصتونه برابرول.

۵.په ملي او نړیواله کچه د لوړوزده کړو وزارت د اړتیاوو سره سم د مرستندویو ټولنې پاملرنه جلبول.

۶.دمهاجرینو چارو وزارت اړوند د اړتیا وړ تحصیلي اسناد د لوړو زده کړو وزارت سره شریکول.

۷. د اصولو سره سم د مهاجرینو چارو وزارت واجد شرایط منسوبین د تحصیلي سویې د لوړولو په موخه لوړو زده کړو وزارت ته معرفي کول.

۸. دلوړو زده کړو بنستونو علمي کادر غړو او د مهاجرینوچارو وزارت د متخصصینو ګډ علمي تحقیقاتو ته فرصتونه برابرول.

**دریم څپرکی**

**وروستي موارد**

**شپږمه ماده:**

**مالي چارې**

د څېړنیزو پروژو، تحصیلي پروګرامونو، ورکشاپونو، کنفرانسونو او علمي غونډو تر سره کولو او پلي کولو لګښتونه د جلا هوکړه لیکونو له لاسلیک وروسته د اړونده اړخونو له لوري تنظیم او پلي کېږي.

**اوومه ماده:**

**د اختلافاتو حل لارې**

د اړخونو تر منځ په هوکړه لیک کې لېکل شویو مواردو د تشریح یا پلي کولو په اړه هر ډول اختلاف به د دریم اړخ له مرستې پرته د اړخونو د خپل منځي مشورې او دوستانه خبرو اترو له لارې حل کېږي. د اختلاف د نه حل کېدو په صورت کې اړخونه کولای شي چې د هوکړه لیک بیاکتنه ، مقابل اړخ ته وړاندې کړي.

**اتمه ماده:**

**بیا کتنه، اصلاحات او بدلون**

۱- اړخونه کولای شي د دې هوکړه لیک د بیاکتنې، اصلاح، جزوي یا بشپړ بدلون لپاره خپلې غوښتنې په لیکلي ډول بل اړخ ته وړاندې کړي.

۲- بیاکتنه، اصلاحات او بدلونونه چې پرې د اړخونو لخوا موافقه شوې وي ، د هوکړه لیک برخه ګڼل کېږي.

نهمه ماده:

<u>ژبه او د اعتبار موده</u>

دغه هوکړه لیک چې د هیواد په رسمي ژبه ( پښتو ) په ۳ فصلونو او ۱۱ مادو.په (۲) نسخو کې، چې مساوي اعتبار لري، ترتیب او د اړخونو د باصلاحیته استازو له لاسلیک وروسته د (۵) کلونو لپاره د اعتبار وړ دی.

لسمه ماده:

<u>تمدید او فسخ</u>

دا هوکړه لیک د (۵) کلونو لپاره اعتبار لري، اما که کوم اړخ یې فسخ کول غواړي نو لږ تر لږه درې میاشتې د مخه بل اړخ ته په لیکلي ډول د هوکړه لیک د فسخ کولو وړاندېز کوي. که د هوکړه لیک د فسخې په موخه کوم وړاندیز موجود نه وي یاد هوکړه لیک د ۵ نورو کلنو له پاره تمدید شوي ګڼل کېږي.

یوولسمه ماده:

<u>مرعي الاجراء</u>

د ا هوکړه لیک د اړخونو د ذیصلاح استازو له لاسلیک او ابلاغ وروسته مرعي الإجراء ګڼل کېږي.

د لوړو زده کړو وزارت په استازیتوب

نوم: شیخ مولوي نداء محمد" ندیم"

موقف: دلوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر

لاسلیک

نښته:

د مهاجرینو او راستنبدونکو چارو وزارت په استازیتوب

نوم: الحاج مولوی خلیل الرحمن"حقاني"

موقف: د مهاجرینو او راستنبدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر

لاسلیک

نښته:



Scanned with AltaScanner